Sachverständigenrat
für Integration und Migration

Übersetzung - ژباړه

# رسېدلي او له نړیوالو اړیکو سره تړلي: په جرمني کې افغان کډوال

Zusammenfassung der Studie „Angekommen und transnational verbunden: Afghanische Zugewanderte in Deutschland“

Sachverständigenrat für Integration und Migration

# ۱ شالید[۱]

په تېرو لسو کلونو کې، ډېر خلک له افغانستان څخه جرمني ته راغلي دي. له ۲۰۲۱ کال راهيسې چې طالبانو واک ترلاسه کړ، په جرمني کې د پناه غوښتونکو افغانانو شمېر نور هم زيات شوی دی. ډېر نوي راغلي مهاجرين لاهم د ادغام په پيل کې دي. ډېری به په اوږدمهاله ډول په جرمني کې پاتې شي او بېرته افغانستان ته نهستنيږي. سره له دې، ډېر کسان لاهم له خپل اصلي هېواد سره اړيکې لري.

د ادغام او مهاجرت لپاره د مشورتی شورا علمی کارپوهان (Sachverständigenrat für Integration und Migration) په المان کې د افغان او سوريايی خلکو په اړه يوه څېړنيزه پروژه ترسره کوی (د پروژې په اړه نور معلومات: /www.svr-migration.de/transnationale-netzwerke). دغه څېړنيز پروژه هڅه کوي چې د افغان مهاجرينو ژوند ښه وپېژني: افغان مهاجرين په جرمني کې څنګه ځانونه ځای کړي دي؟ کومو ستونزو سره مخ دي؟ په جرمني کې د دوی ټولنيزې شبکې څنګه دي؟ له افغانستان سره يې کومې اړيکې دي؟ دا شبکې د دوی په ورځني ژوند کې څومره اړينې دي؟

په دې لړ کې، د ۲۰۲۳ کال د نومبر او ۲۰۲۴ کال د اپريل ترمنځ يوه آنلاين سروې ترسره شوه.[۲] ۱.۸۹۱ کسانو له افغانستان څخه چې په جرمني کې ژوند کوي، پوښتنليک ته ځواب ورکړ. د هغوی ځوابونه به په يوه څېړنه کې چې عنوان يې « رسېدلي او له نړيوالو اړيکو سره تړلي: په جرمني کې افغان کډوال » دی، په تفصيل سره تحليل شي. دا څېړنه هغه افغانان چې له ۲۰۲۱ څخه مخکې جرمني ته راغلي دي، له هغو افغان مهاجرينو سره چې له ۲۰۲۱ وروسته راغلي دي، پرتله کوي. د دغې څېړنې مهمې پايلې به دلته لنډيز شي.

[۱] دا متن د " رسېدلي او له نړيوالو اړيکو سره تړلي: په جرمني کې افغان کډوال" د څېړنې لنډيز دی، چې د ۲۰۲۴ کال د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا د علمي کارکوونکو لخوا ترسره شوې ده. ژباړه د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا د علمي کارکوونکو لخوا نه ده ارزول شوې. له همدې امله، علمي کارکوونکي د ژباړې د دقت مسووليت نه اخلي. د مطالعې د آلماني ژبې بشپړه نسخه معتبرده چې د مشورتي شورا د ادغام او مهاجرت په وېبپاڼه کې موندل: www.svr-migration.de/publikation/afghanische-zugewanderte-in-deutschland/

Dieser Text fasst die Studie „Angekommen und transnational verbunden: Afghanische Zugewanderte in Deutschland" des wissenschaftlichen Stabs des Sachverständigenrats für Integration und Migration aus dem Jahr 2024 zusammen. Die Übersetzung konnte vom wissenschaftlichen Stab des Sachverständigenrats für Integration und Migration nicht überprüft werden. Der wissenschaftliche Stab übernimmt somit keine Verantwortung für die Richtigkeit der Übersetzung. Maßgeblich ist die deutsche Langfassung der Studie, die auf der Website des Sachverständigenrats für Integration und Migration abrufbar ist: www.svr-migration.de/publikation/afghanische-zugewanderte-in-deutschland/.

[۲] د آنلاين سروې د "Handbook Germany: Together" په مرسته ترسره شوه. له ۱.۸۹۱ کسانو څخه چې په دې سروې کې يې ګډون کړی و، ۹۰ سلنه نارينه او ۹ سلنه ښځې وې. ۶۸ سلنه ګډونوال يوازې له ۲۰۲۱ کال راهيسې په جرمني کې ژوند کوي. ۲۵ سلنه د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۰ کلونو ترمنځ جرمني ته راغلي او ۷ سلنه له ۲۰۱۵ مخکې مهاجر شوي دي.

# ۲ د څېړنې پایلې


## ۱.۲ ډېری افغان مهاجرین په افغانستان او نورو هېوادونو کې کورنۍ او ملګري لري.

په جرمني کې د افغان مهاجرینو یوه لویه برخه کورنۍ او ملګري لري چې لا هم په افغانستان یا نورو هېوادونو کې ژوند کوي. ۸۵ سلنه د نظر پوښتنې ګډونوال وایي چې لږ تر لږه یو نږدې کورنۍ غړی (مور او پلار، ماشومان، وروڼه یا خویندې، یا مېړه/ښځه) او نور خپلوان او ملګري یې په افغانستان کې ژوند کوي. ۴۱ سلنه یې نږدې خپلوان په نورو هېوادونو کې لري: په ځانګړي ډول په ایران، پاکستان، ترکیه، یا د اروپایي اتحادیې په کوم بل هېواد کې.

ډېری ګډونوال له خپلو خپلوانو سره په نورو هېوادونو کې ډېر ځله اړیکې لري. ۷۱ سلنه هره ورځ یا لږ تر لږه په اوونۍ کې یو ځل له خپلو نږدې کورنۍ غړو سره چې په افغانستان کې ژوند کوي، اړیکه نیسي (شکل ۱ وګورئ). دغه اړیکه د دوی لپاره ډېره مهمه ده. خو یوازې یو کوچنۍ برخه ګډونوال په تېرو ۱۲ میاشتو کې خپلې کورنۍ ته، چې په جرمني کې ژوند نه کوي، پیسې استولې دي.

له دې کبله ډېری ګډونوال له خپلو نږدې کورنۍ غړو څخه بېل دي. نو د دوی لپاره ډېر مهمه ده چې خپل خپلوان ژر تر ژره جرمني ته راوستلای شي. د کورنۍ بیا یوځای کېدل د ټولو هغو کسانو لپاره چې په سروې کې یې ګډون کړی، ۴۴ سلنه تر ټولو لویه ستونزه ده – پرته له دې چې کله جرمني ته راغلي دي.

**شکل ۱: له نږدې خپلوانو او د پراخې ټولنې له نورو کسانو سره د اړیکو تکرار په افغانستان او نورو هېوادونو کې**




سرچینه: د فراملي شبکو سروې ۲۰۲۴/۲۰۲۳؛ محاسبه او وړاندې کونکی: د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي

## ۲.۲ په جرمني کې افغان مهاجرين لا هم لږ ټولنيزې اړيکې لري.

سروې څرګندوي چې په جرمني کې د افغان مهاجرينو ټولنيزې شبکې لا هم نسبتاً وړې دي. نيمايي ګډونوال ډېر لږ له هغو جرمنانو يا نورو افغانانو سره چې په جرمني کې اوسيږي، اړيکه لري.


کله چې ګډونوال د شخصي ستونزو يا د جرمني ژوند په اړه پوښتنې لري، هغوی ډېر احتمال لري چې له هغو خلکو څخه مرسته وغواړي چې په جرمني کې ژوند کوي: يا نور افغانان يا د هغوی جرمن دوستان (شکل ۲ وګورئ)

د اړيکو جوړول او د دوستۍ پراختيا وخت نيسي: هغه افغان مهاجرين چې له ډېرې مودې راهيسې په جرمني کې اوسي، په څرګند ډول له جرمنانو سره ډېرې اړيکې لري. هغوی کولای شي چې د ستونزو په صورت کې ډېر په اسانۍ سره له جرمن دوستانو څخه مرسته وغواړي، په پرتله له هغو کسانو سره چې يوازې له ۲۰۲۱ کال راهيسې جرمني ته راغلي دي.

دا هم مهمه ده: ځايي او فراملي اړيکې يو بل پوره کوي. مثلاً، هغه څوک چې له افغانستان سره ډېرې اړيکې لري، لازماً په جرمني کې لږې اړيکې نه لري. بلکې داسې ښکاري چې دوه ډلې شتون لري: يوه ډله چې په ټوله کې ډېرې ټولنيزې اړيکې لري (په جرمني او افغانستان کې) او بله ډله چې لږې اړيکې لري .

سره له دې، کېدای شي په افغان مهاجرينو کې يوه داسې ډله وي چې ډېرې کمې اړيکې لري او لا ډېر ملاتړ ته اړتيا لري. سربېره پر دې، يوازې ۲۵ سلنه ګډونوال په جرمني کې د افغان ټولنې لپاره کارکوونکې افغان دياسپورا سازمانونه پېژني.

**شکل ۲: د جرمنی د  ژوند په اړه د شخصی ستونزو او پوښتنو لپاره تر ټولو مهم کس ته مراجعه کوی (یوازې یو ځواب ممکن دی)**





سرچینه: د فراملي شبکو سروې ۲۰۲۳/۲۰۲۴؛ محاسبه او وړاندې کونکی: د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي

## ۳.۲ ډېر زیات افغان مهاجرین احساس کوي چې د جرمني برخه دي او غواړي په اوږدمهاله توګه په جرمني کې ژوند وکړي.

سره له دې چې ډېری ګډونوال لا د ډېرې مودې لپاره په جرمني کې نهدي اوسېدلي، خو زیات شمېر یې ځان په جرمني پورې تړلی احساسوي. د جرمني برخه احساسوي. ډېری (۶۳ سلنه) په یوه وخت کې ځان هم له افغانستان سره او هم له جرمني سره ډېر تړلی احساسوي (شکل ۳ وګورئ).

**شکل ۳: د جرمني او افغانستان سره د تړاو احساس ترمنځ اړیکه**

په ټوله کې، زه د ... سره تړاو احساسوم





سرچينه: د فراملي شبکو سروې ۲۰۲۳/۲۰۲۴؛ محاسبه او وړاندې کونکی: د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي

۵۵ سلنه ګډونوالو په جرمني کې د راتګ پر مهال د ښه راغلاست احساس کړی. که څه هم په جرمني کې د څو کلونو تېرېدو وروسته د ښه راغلاست احساس لړيږي، خو د سروې په وخت کې هم ۴۴ سلنه ويلي چې په جرمني کې ځان ته ښه راغلاست ويلی احساسوي. هغه کسان چې جرمني ملګري لري، دلته د هغو کسانو په پرتله چې له جرمنيانو سره لږې اړيکې لري، ډېر ښه راغلاست احساسوي.

نږدې ټول خپله راتلونکې په اوږدمهاله ډول په جرمني کې ويني او غواړي تابعيت ترلاسه کړي - ۸۶ سلنه غواړي د جرمني تابعيت واخلي. ۱۱ سلنه لا دمخه د تابعيت لپاره غوښتنليک ورکړی دی. د افغانستان د ستونزمن وضعيت له امله، ډېری کسان نه غواړي بېرته هلته ستانه شي (شکل ۴ وګورئ).

**شکل ۴: «که تاسو د راتلونکو ۱۰-۵ کلونو په اړه فکر کوئ، آیا غواړئ بېرته افغانستان ته ستانه شئ؟»**




سرچينه: د فراملي شبکو سروې ۲۰۲۳/۲۰۲۴؛ محاسبه او وړاندې کونکی: د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي


## ۲.۴ ډېری افغان مهاجرين لا هم د ادغام او ګډون په لاره کې د خپلو لومړيو ګامونو په پيل کې دي.

ډېری ګډونوال يوازې څو کاله کېږي چې په جرمني کې ژوند کوي. له همدې امله، دوی لاهم ډېرې ځنډونه بايد له منځه يوسي ترڅو يو نوی ژوند جوړ کړي او د ټولنې برخه شي. د دوی په وينا، د دوی تر ټولو مهمه ستونزه دا ده چې خپلې کورنۍ غړي جرمني ته راولي. سربېره پر دې، دوی د آلماني ژبې د زده کړې، د خوندي اقامې ترلاسه کولو، د استوګنځي موندلو او کافي پيسو ګټلو په هڅه کې دي (شکل ۵ وګورئ). دوی له هغو ستونزو سره مخ دي چې د نورو هېوادونو کډوال چې په لنډ وخت کې جرمني ته راغلي، ورسره مخامخ دي.

ډېر افغان مهاجرين د تبعيض احساس کوي: د بېلګې په توګه، ۳۲ سلنه د استوګنځي په موندلو کې د تبعيض احساس کړی، ۲۲ سلنه په دولتي ادارو کې، او ۱۹ سلنه په ډاکټر يا روغتون کې. هغه کسان چې د ډېر وخت لپاره په جرمني کې اوسي، د هغو کسانو په پرتله چې له ۲۰۲۱ کال راهيسې راغلي، ډېر د نابرابرۍ احساس کوي. برسېره پر دې، ډېری (۵۳ سلنه ګډونوال) باور لري چې د جرمني سياست د افغان ټولنې ګټې او اړتياوې په کافي اندازه په پام کې نه نيسي.

په دې سروې کې ګډونوال هم کولی شواى چې و وايي آيا د خپل اوسني عايد سره بنه يا په سختۍ سره مقابله کوي. هغه ګډونوال چې مالي ستونزې لري، ډېر د تبعيض احساس کوي، له جرمنيانو سره لږ اړيکې لري، په جرمني کې لږ ښه راغلاست احساسوي، او له دې هېواد سره لږ تړاو لري. برعکس، هغه کسان چې له اقتصادي پلوه ځانونه خوندي احساسوي، وايي چې د جرمني سره ډېر تړاو احساسوي.

شکل ۵: «په جرمني کې د اوس لپاره درې لویې ستونزې کومې دي چې ورسره مخ یاست؟» (تر ۳ ځوابونه ممکن دي)




سرچينه: د فراملي شبکو سروې ۲۰۲۳/۲۰۲۴؛ محاسبه او وړاندې کونکی: د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي

## ۳ سپارښتنې

د دې څېړنې پر بنسټ، د ادغام او مهاجرت د مشورتي شورا علمي کارکوونکې لاندې وړاندیزونه کوي:

- سروې څرګندوي چې د افغان مهاجرينو لويه برخه د جرمني په اړه مثبت نظر لري او غواړي په اوږدمهاله توګه په جرمني کې پاتې شي. سیاستوال او مدني ټولنه باید هغوی سره د عملي ستونزو په حل کې مرسته وکړي او د هغوی ټولنيز او اقتصادي ادغام ته وده ورکړي.
- د جرمني سیاستوال، مدني ټولنه او د افغان ټولنې استازي باید له يو بل سره خبرې وکړي، د بېلګې په توګه د ادغام، تعلیم، د تبعیض پر وړاندې مبارزه او د افراطیت مخنيوي په اړه. رسنۍ هم دا مسووليت لري چې د افغان مهاجرت په اړه په دقیق ډول راپور ورکړي او د اغېزمنو کسانو نظرونه په پام کې ونیسي.

- په جرمني کې د افغان ډیاسپورا سازمانونه د ډېرو مهاجرينو لپاره ناآشنا دي. دغه سازمانونه کولی شي په فعال ډول نوي افغان مهاجرين ته ورنږدې شي، ترڅو د هغوی د راتګ په پروسه کې مرسته وکړي.

- ډېری افغان مهاجرين له خپلو نږدې کورنۍ غړو څخه جلا ژوند کوي او غواړي هغوی جرمني ته راولي. د کورنۍ د بیا یوځای کېدو پروسه باید چټکه شي. د دې لپاره، د بېلګې په توګه، په پاکستان او ایران کې د جرمني قونسلګریو کې باید د ویزې د پروسې لپاره نور کارکوونکي وګمارل شي.

- د افرادو د مالي حالت او د جرمني سره د تړاو احساس او له نورو خلکو سره د اړیکو ترمنځ یو تړاو شته. د کاري بازار ادغام ډېر مهم دی ترڅو مهاجرين ځان د ټولنې برخه احساس کړي. په ځانګړي ډول هغه افغان مهاجرين چې له ۲۰۲۱ کال راهیسې جرمني ته راغلي، اکثره لوستي دي او د کار تجربه لري. دا فرصت باید وکارول شي. دوی د دې لپاره ملاتړ ته اړتیا لري چې خپلې زده کړې په جرمني کې ومنل شي او کار ومومي.

- باید نورې څېړنې ترسره شي ترڅو څرګنده شي چې آیا افغان مهاجرين د ټولنیز انزوا احساس کوي او دا ولې. په ځانګړي ډول د افغان مېرمنو د ژوند حالت باید د څېړنې په مرکز کې وي.

## Impressum

**Herausgeber**
Sachverständigenrat für Integration und Migration (SVR) gGmbH
Neue Promenade 6
10178 Berlin
Tel.: 030/288 86 59-0
Fax: 030/288 86 59-11
info@svr-migration.de
www.svr-migration.de

**Verantwortlich**
Dr. Cornelia Schu

© SVR gGmbH, Berlin 2024

Sachverständigenrat
für Integration und Migration


## ليکوالان

**فريدريش، نيلس**
علمي کارکوونکی او و د کلنی راپور د برخې مرستيال

**پاپ، کارولين**
علمي کارکوونکې

ژباړه: عبدالله عمار



## Der Autor/Die Autorin

**Friedrichs, Nils**
Wissenschaftlicher Mitarbeiter und Stellvertretender Leiter des Bereichs Jahresgutachten

**Popp, Karoline**
Wissenschaftliche Mitarbeiterin

Übersetzung: Abdullah Ammar


## د مشورتی شورا په اړه

د ادغام او مهاجرت مشورتي شورا يو خپلواکه او څو اړخيزه بنسټ دی چې د علمي سياستي مشورې په برخه کې فعاليت کوي. د خپلو راپورونو له لارې، دغه شورا هڅه کوي چې د ادغام او مهاجرت په اړه د پريکړې کولو مسوولو ادارو او خلکو ته د قضاوت په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. د شورا نهه غړي د مختلفو ځانګو او څېړنيزو برخو څخه دي: پروفيسور ډاکټر هانس فورلندر (رييس)، پروفيسور ډاکټر بيرګيت لېنډېکر (مرستياله رييسه)، پروفيسور ډاکټر هوا انګين، پروفيسور ډاکټر بيرګيت ګلوريوس، پروفيسور ډاکټر مارک هلبلينګ، پروفيسور ډاکټر وينفريد کلوټ، پروفيسور ډاکټر ماتياس کوئينګ، پروفيسور ساندرا لاوېنيکس (Ph.D.)، پروفيسور پانو پووتوارا (Ph.D.).

د شورا علمي کارکوونکي د شورا په دندو کې مرسته کوي او په دې سربېره د ادغام او مهاجرت په برخه کې خپلواک، پر تطبيق متمرکزې څېړنې ترسره کوي. په دې برخه کې دوی د بېلابېلو ځانګيزو او ميتودولوژيکي لارې چارې کاروي. د څېړنو پايلې د مطالعو، راپورونو او د پاليسی د لارښوونو په توګه خپرېږي.

نور معلومات دلته: www.svr-migration.de